دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن
د آخرت تلپاتې نعمت دهغو خلکو لپاره دی چې ایمان یې راوړې او پر خپل رب توکل کوي. او دهغو کسانو لپاره دی چې له لویو ګناهونو او له بې حیایي څخه خانونه ژغوري، اوکله هم چې په قهر شي نو ببښنه کوي. اوهغو لپاره دی چې د خپل رب بلنه یې منلې. لمونځ یې ودرولی او خپلمنځي کارونه یې په مشوره دي او څخه چې موږ ور روزي کړې د الله په لیار کې یې مصرفوي. (سورة الشوری: ۳۵ - ۳۸)

درس حدیث
له عیاض بن حمار (رضي الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بې شکه الله تعالی ماته وحی کړی چې تاسې تر هغه له تواضع نه کار واخلئ چې نه دی یو څوک پر بل کس تیرې وکړي او نه دی یو څوک پر بل کس په کار او خبرو کې خپل خان لوړ وګڼي. (صحیح مسلم)

شهادت شپږم کال، ۴۹ مه ګڼه، پرله پسې ۲۹۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د کب ۱۲ مه د ۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الاول ۱۲ مه د۲۰۱۵ م د مارچ ۳ مه

عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان:

نهضت اسلامی و کفرشکن در افغانستان، در دشوارترین مراحل حیات معاصر اسلامی قد برافراشت

گزارشگر ع. ق ورشاز:
اخیراً عبدالهادی ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان با یک تعداد از اعضای حزب اسلامی ولایت بدخشان مقیم کابل در دفتر حزب اسلامی ملاقات بعمل آوردند.
نشست با تلاوت از آیات کلام الله مجید توسط یک تن از برادرها آغاز گردید.
بعداً استاد عبدالقدیر ((مهان)) در رابطه به روند و پروسهٔ کارهای حزب اسلامی در دهه اخیر در ولایت باستانی بدخشان به تفصیل صحبت کرده افزودند: ولایت بدخشان زادگاه فرزانه مرد تاریخ اسلام و نهضت اسلامی افغانستان و شهید راه اسلام، داکتر محمد عمر شهید است، که سالها قبل بدست دژخیمان تاریخ و مزدوران کمونیزم... (ص ۴)

نیاز عاجل به مذاکرات صلح
بخاطر نجات کشور از وضع رقتبار امروزی

ف. فایض

گرچه سقوط نظام سلطنتی برهبری ظاهرشاه یک امر محتوم شده بود؛ زیرا نظام دیگر پوسیده شده بود و به خواستهای ملت افغانستان قابل جواب دادن نبود. اوضاع سیاسی جهان و بخصوص منطقه هم درحال یک تغییر بود بناءً افغانستان باید دارای نظامی می بود که به چالشهای جدید میتوانست جواب بگوید. از سوی دیگر اختلافات در درون دودمان سلطنتی به اوج خود رسیده بود. از یک طرف اختلافات ظاهرشاه و داوود و از سوی دیگر اختلافات سردارولی و سردار داوود که به این ترتیب هم داوود و هم سردار ولی هر دو در کمین نشسته بودند تا ظاهرشاه را از پا در آورند. درین مسابقه داوود نسبت به سردار ولی سبقت جست؛ ولی داوود هم یک بدیل مناسب برای نظام سلطنتی نبود. آنچنان که ظاهرشاه دموکراسی را بدون مؤلفه های آن اعلان کرد و بالاخره دموکراسی به انارشیزم انجامید. بهمین ترتیب داوود نظام جمهوری را بدون مؤلفه های جمهوریت اعلان کرد ورنه همان شرایط نسبی آزادی بیان هم که در دههٔ دموکراسی بمیان آمده بود، درجمهوریت داوود از میان رفت و باز بهمان دکتاتوری توسل جست که در زمان صدارت او و کاکایش محمد هاشم خان بر افغانستان حاکم بود. [illegible] دست به گرفتاریها و کشتار یکعده سیاستمداران بلند پایهٔ کشور و به تعقیب آن دست به گرفتاری رهبران نهضت اسلامی کشور زد. خلاصه این سیاستهای نابخردانهٔ داوود شیرازه ثبات نسبی کشور را هم از بین برد و فرصت را برای بقدرت رساندن مستقیم کمونستها درکشور مهیا ساخت، بناءً از همان زمان کشور ما بسوی بی ثباتی رفت و زمینه را برای یک کودتای کمونستی و بعداً لشکرکشی روسهای نابکار به کشور ما فراهم کرد.
افغانستان اینک در دههٔ چهارم بی ثباتی خود بسر میبرد، کمونستها که ... (ص ۳)

ډاکتر عبدالله عبدالله:

دپیښو پر خلاف دمبارزې دتیاري بيړنی کمیټه دې باید سمباله شي

کابل، رسنۍ:
دافغانستان داسلامي جمهوریت اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله د دوشنبې په ورځ د وزیرانو شورا دغونډې په پیل کې رسنیو ته وویل چې په دې وروستیو وختو کې د واورې ښوئیدنې له امله د سر د اوښتو زیانونو شمیر درې سوه تنو ته رسیدلی دی.
اجرائیه رئیس په دې غونډه کې ټینګار وکړ چې دپیښو پر خلاف دمبارزې دتیاری کمیټه دې باید ځو برابره سمباله شي او ظرفیت یې لوړ کړی شي. څکه زموږ هیواد د اقلیمي حالت په لحاظ په هره سیمه کې خپله ځانګړتیا لري. دغه شان پېښې موږ لازیات متوجه کوي چې له پیښو سره دمقابلې په لاره کې زیاتې هلې ځلې وکړي.
ده زیاته کړه چې په راروان کال کې د هېواد په ځینو سیمو کې دزیاتو سیلاونو دراوتلو امکان شته باید په دغو مواردو کې لازم تیاری ولرو.
اجرائیه رئیس په دې وروستیو وختو کې واورې ښوئیدنو ته ... (۴ مخ)

د وروستیو آفاتو د قربانیانو او زیانمن شویو له کورنیو سره د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمدخان

د خواخوږی او ډاډګیرنی پیغام

د اجرائیه ریاست لومړی مرستیال انجنیر محمدخان د پنجشیر، بدخشان، ننګرهار، لغمان، نورستان، بامیان او نورو ولایتونو کې د واورې د خوئیدو او سېلابونو له لامله زیانمن شویو او شهیدانو کورنیو ته د خپلې ژورې خواخوږی او ډاډګیرنی مراتب څرګندوي.
د شهیدانو ارواوو ته د فردوس جنت، ټپیانو ته د لوی خدای له دربار څخه عاجله روغتیا او د شهیدانو کورنیو ته د جمیل صبر غوښتنه کوي. ... (۴ مخ)

نواز شریف د افغان سولې لپاره د خبرو ملاتړ کوي

د پاکستان لومړي وزیر په اسلام اباد کې له افغان سفیر سره د لیدو پر وخت د دواړو هېوادونو پر پوخې ملګرتیاو خوښي ښوولې او پر افغان سولې غږېدلی دی.
د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف د کابل او اسلام اباد تر منځ د ښو امنیتي اړیکو له ملګرتیا خوښي ښکاره کړه او د دواړو هېوادونو د پوخ مشرانو هڅې یې وستایلې.
افغانستان کې د نوي حکومت له راتګ وروسته د پاکستان او افغانستان ترمنځ اړیکې ښې شوې دي.
په تېرو څو میاشتو کې د دواړو... (۴ مخ)

د کابل د ټولو امنیتي حوزو آمرین بدل شول

کابل، رسنۍ:
د پلازمېنې کابل د ۱۶ امنیتي حوزو مشران او لس نور امنیتي چارواکي له دندو لېرې کړل شوي او پرځای یې نوي کسان ګمارل شوي دي.
د کابل امنیه قومندان وایي چې دغه چارواکي یې د ښې حکومتوالۍ د یوې برخې په توګه بدل کړي دي.
لوی پاسوال عبدالرحمن رحیمي بي بي سي سره په مرکه کې وویل نوي کسان د داسې یوه کمیسیون له خوا غوره شوي چې لومړی یې د دوی وړتیا دغې دندې ته ارزولې ده.
د ښاغلي رحیمي په وینا د هر پوست لپاره څلور کاندیدان ول چې... (۴ مخ)

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

مصائب ناشی از بارندگی اخیر در کشور

در اثر بارندگی های سنگین و دوامدار هفته گذشته در اکثر ولایات کشور، مردم ما با تلفات، مصائب و خسارات عدیده ای مواجه شدند. بیشترین قربانی ها و اضرار این حادثه را مردم ولایت پنجشیر متحمل گردید که به استناد آخرین آمار منتشره از منابع رسمی، درحدود ۲۰۰ نفر از اهالی این ولایت جان های شیرین شان را از دست دادند و قرار گزارش های واصله کار عملهٔ نجات برای گشایش راه ها، مداوای مجروحین، غذا رسانی به گیرماندگان و کشیدن اجساد از زیر برف هنوز ادامه دارد. این مصیبت تنها به ولایت پنجشیر خلاصه نمی شود، بلکه در اکثر ولایات کشور تعدادی از هموطنان ما در اثر برفباری شدید و برفکوچ ها شهید و زخمی گردیده اند که بنا به گزارش منابع رسمی تعداد آنها به صدها نفر می رسد.

برخورد دولت با این مصیبت ملی قابل قدر بوده و از همان لحظات نخستین وقوع این حادثه، سران حکومت وحدت ملی با صدور فرامین فوق العاده، جلسه اضطراری کابینه و کمیسیون ضد حوادث را دایر و بخاطر جلوگیری از تلفات و خسارات بیشتر، تدابیر فوق العاده اتخاذ نمودند. صدور تسلیت نامه های رسمی از آدرس مقامات عالیهٔ دولت و مسافرت غیر مترقبهٔ رئیس جمهور و رئیس اجرائیه در روز جمعه گذشته به ولایت پنجشیر، بیانگر عمق تأثر و تأسف ایشان در قبال این حادثه می باشد، مزید بر آن اعلان سه روز عزای ملی، به تعویق افتادن سفر رئیس جمهور به جمهوری اسلامی ایران و توظیف کمیسیون اضطراری کمک به مصیبت رسیدگان به اشتراک نمایندگان ارگان های ذیربط دولتی، گویای توجه ویژه ایشان در جهت دستگیری و همدردی با این حادثهٔ هولناک می باشد.

مصیبت ناشی از حوادث برفباری شدید و برفکوچ های اخیر درکشور، ازجمله بلا های آسمانی اند که به اراده خالق جهان، گهگاهی برمخلوقات وارد می گردد و انسان ها در مقابله با این حوادث هیچ کاری از پیش برده نمی توانند و این مصائب برای بندگان مطیع به مثابهٔ آزمون بزرگ الهی اند که بایست درقبال آن ها صبر و تقوی پیشه کنند، الله را زیاد یاد نمایند و مهمتر از همه به خداوند استرجاع نمایند. یعنی در برابر مصائب و بلاهای آسمانی که در اثر آن مال و جان و دارایی ایشان به خطر مواجه گردیده و یا نابود و هلاک شده اند، به خداوند (ج) رجوع نموده و به زبان چنین زمزمه نمایند: ((انالله واناالیه راجعون)) ترجمه: یقیناً که ما از آن خداییم و بسوی او تعالی بر می گردیم.

زمزمه استرجاع سبب طمانیت قلبی و تسلیت خاطر مصیبت رسیدگان و درد رسیدگان گردیده، ارواح قربانیان شاد و دل های زخمی ها و مصدومان مرهم گذاشته می شوند. در صورتی که ما مخلوق خدای خالق باشیم، بدیهی است که بسوی او تعالی باز می گردیم و دلبستگی و تعلق بندگان به دنیا و زیبایی های آن، نزول مصائب و یا رحلت از دنیا نباید برای ما چنان سنگین و سخت جلوه نماید که برای از دست دادن آن جزع و فزع سرداده و بی تابی نمائیم.

در روایات آمده است که با وجود سختی ودردناکی مصائب و بلیات آسمانی، برای انسان ها درس های عبرتی نیز در این گونه حوادث نهفته است که در اثر آن بندگان با دیدن آنها به خویشتن تکان خورده و با توجه و عنایت به نعمت های بیکران خالق حقیقی، متوجه غفلت، ناسپاسی و بی اطاعتی خویش در قبال پروردگار گردیده و با انتباه از آن به معنای واقعی کلمه بندگی او تعالی را بجا می آورند.

از خداوند بزرگ عاجزانه درخواست می نمائیم که وقوع این حوادث هولناک، نه بخاطر نا سپاسی و کم اطاعتی ما از اوامر او تعالی، بلکه هشدار و انتباهی باشد که ما توفیق اطاعت و بندگی بیشتر خالق را کما حقه نصیب شده و کمی ها و کاستی ها و غفلت های خویش را متوجه شویم و در پی اصلاح آن برآئیم.

از خداوند بزرگ برای شهدای این حوادث غفران الهی و برای مصدومان و متضررین، سلامتی و اجر عظیم خواهانیم، همچنان به خانواده های عزا دار و دوستان ایشان و کافهٔ ملت افغان، صبر، استقامت و پاداش استدعا داریم.

محمد خلیل

د پانګې او اقتدار سهي استعمال د هېواد بنسټونه غښتلي کوي

پانګه او اقتدار دوه داسې بنسټيز توکي دي چې د هغوی په سهي استعمال سره هيواد دامن پرمختګ او استحکام په لورګامونه اخلي؛ خو کــه دواړه غلط استعمال شي؛ نو د هيواد بنسټونه کمزوري کوي او دزوال په لــوريــې بيايي. له بده مرغه په ګران هيواد کی زياتره پانګه وال خپله پانګه د اولس د خير ښيګڼې پرځای په غلطو لارو کی استعمالوي او اقتدار هم د خلــکــو پرحقوقو د ناروا تسلط او ګيډی اچولو لپاره په کار اچول کيږي، په داســې حال کې چې دواړه د الله تعالی لوی نعمتونه دي نه ښايي چې ددومــره لويو نعمتونو ناشکري وشي او په غلطو لارو استعمال شي.

زمور په ټولنه کې ترټولو زياتې ستونزي اقتصادي نابرابريو او له اقتدارنه ناوړه ګټو اوچتولو پيدا کړي دي. ځينې خلک داسې دي چې د هيواد پرهرڅه يې قبضه کړې، مال او دولت هم له هغوی سره دی او اقتدارهم، پاتې خلک دهغوی تر رحم او کرم لاندی ژوند تيروي. هغوی دومره بې وسه او بې واکه دي چې د خپلو حقوقو په ترلاسه کولو کې قانوني تحفظ نه لري. لومړی د يو لوړ پوړي چارواکي درباره ورځي هغه هم خالي لاس نه؛ بلکې دخپل وس مطابق سوغات سره يوځای، هلته ژړا، فرياد کوي او دخپل روا حق د ترلاسه کولو په خاطر د واسطه کيدو زاری ورته کوي، که دهغه په زړه کې رحم راشي؛ نو اړوندې اداري ته يا دوه ګوتې خط ورکوي او يا هم زنګ ورته وهي چې د پلانکي سړي خيال وساته چې زما ددوستانو له جملې څخه دی. ډير لږ خلک داسې دي چې دکومی واسطی په پيدا کولو سره خپل حق ترلاسه کړي؛ خو مطلق اکثريت وګړي نه واسطه لري او نه پيسي چې د خپل جائز حق د ترلاسه کولو لپاره يې وکاروي، هغوی بيچارګان له خپل ژوندنه بيزاره او دغم تردروند پېټې لاندې شپې سباکوي حکومتي چارواکي ترينه داسې بيغمه دي لکه چې نه څه ويني او نه څه اوري. که څوک يې مني يا نه؛ خو حقيقت همداسې دی چې د افغانستان ديرش ميليونه وګړي د څو سوه تنو حکومتي لوړ پوړو چارواکو، سرمايه دارو، ځايي زورواکانو او مافيايي کړيو د جبر ترڅپيړو لاندې ژوند تيروي. خلک په دی خبره نيوکه نه لري چې يو څوک ولې سرمايه داره کيږي او ولې د حکومت لوړ پوړو څوکيو ته رسيږي خو په دی شرط چې دواړه له جايزو لارونه ترلاسه کړای شي.

په حلال کار وبار او کسب چې څوک څومره پيسې او مال پيدا کولای شي اسلامي شريعت يې مخه نه نيسي؛ بلکې ستاينه يې هم کوي، همداراز هغه اشخاص چې د لياقت په لحاظ لوړو څوکيو ته رسيږي او دخپل ملت د خدمت مصدر ګرځي څوک ورسره نه حسد کوي او نه هم ورته ازار کوي؛ بلکې د هيواد دلا زيات خدمت توفيق ورته غواړي؛ خو ډير افسوس چې دلته خبره سرچپه ده، د ګوتو په شمار دڅو محدودو اشخاصو پرته چې له خپلې سرمايې او اقتدارنه ناوړه ګټه نه اوچتوي او پر نورو خلکو د ظلم ميچنه نه ګرځوي اکثريت يې دواړه د خپلو ناوړو او شومو اغراضو د ترلاسه کولو له پاره په کار اچوي، د بيلګې په توګه که دکونړ ځنګلونو وهل کيږي يا دپکتيا او نورو ولايتونو ځنګلونه نو د دولت دلوړ پوړو چارواکو له سازش او اجازې پرته امکان نه لري، همداراز د ترافيکو په لاروکې چې د رشوت کومه لړی روانه ده تر شاه يې د لوړو مقاماتو د لاس لرو شونتيا هيڅوک نشي ردولای.

په کانونو، ګمرکونو، ښاروالی، قضايې، روغتيايي او نورو ادارو کې چې څومره فساد تر سترګو کيږي داهم د لوړو ادارو له ملاتړ پرته امکان نه لري.

پانګه او اقتدار دوه داسې بنسټيز توکي دي چې د هغوی په سهي استعمال سره هيواد دامن پرمختګ او استحکام په لورګامونه اخلي؛ خو که دواړه غلط استعمال شي؛ نو د هيواد بنسټونه کمزوري کوي او دزوال په لورېې بيايي. له بده مرغه په ګران هيواد کی زياتره پانګه وال خپله پانګه د اولس د خير ښيګڼې پرځای په غلطو لارو کی استعمالوي او اقتدار هم د خلکو پرحقوقو د ناروا تسلط او ګيډی اچولو لپاره په کار اچول کيږي، په داسې حال کې چې دواړه د الله تعالی لوی نعمتونه دي نه ښايي چې ددومره لويو نعمتونو ناشکري وشي او په غلطو لارو استعمال شي.

هيواد ته چې د مليارډو افغانيو کوم جعلــي درمل، غيرصحي انرژي ګانې بی کيفيته تيل او نور بې کيفيته خوراکي توکــي واردېـږي د حکومت او تجارانو ترمنځ له جوړ جاړي پـرتــه هيڅ امکان نه لري. همداراز په هيواد کې دننــه چې د شرابو، اپيمو، چرسو او هيروئينو کــوم لعنتي تجارت روان دی او زموږ لکونه ځوانــان خپله روغتيا او ژوند له لاسه ورکوي نه حکومت بري الذمه ګڼلای شو او نه هم ددغه ګنده کــارو بار تجاران؛ آخر دا څنګه ممکن کيدلای شــي چې د کابل غوندې مرکزي ښار په حساســو ځايونو کې دی چرس، شراب او هيروئين دومره په اسانه پيداشي چې هرڅوک يې واخســتــلای شي دا هرڅه په همدی واقعيت دلالت کوي چې داقتدار دخاوندانو او غيرقانوني کاروبارېـانــو ترمنځ توافق موجود دی.

اقتدار او سرمايه د هيواد په رغاونه او ويجاړولو کې ستر نقش لري، که دواړه سهي او سم وکارول شي؛ نو په هيواد کې د امن ترقی او خوشالی پسرلی راوستلای شي او که غلط وکارول شي؛ نو يو مزبوت او غښتلي هيواد هم په لږ وخت کې د نا امنی او فقر په کندر بدلولای شي. له بده مرغه زموږ په هيوادکې دواړه دناوړو کارونو لپاره په کار اچول شوي دي. کله چې د يو هيواد بانکونه د اولس د اعتماد او باور په جلبولو کې پاتې شي او ولس هلته دخپلو شتمنيو له ايښودلو څخه ډډه وکړي؛ نو د هغه هيواد اقتصاد څنګه پياوړی کيدای شي؟ ځرګنده خبره ده چې خلک په داسې بانکونو کې د خپلو پيسو د خوندي کولو لپاره زړه نه ښه کوي يا د خپلو کورونو په کوم ګوټ کې يې پټوي او يا هم په بهرنيو بانکونو کې داخلوي.

د افغانستان په څير يو غريب هيواد چې د عوايدو ستره وسيله ګمرکي محصولات او ماليات دي متاسفانه په دواړو کې ډير لوی غبن روان دی، دګمرکي محصولاتو زياته برخه هم شخصي جيبونو ته ځي او دمالياتو زياته برخه هم خورد بردکېږي د فساد په اړه چې په ملي او بين المللي کچه په رسنيو کې څه ويل کيږي او ياهم ليکل کيږي هسې تورونه، نه؛ بلکې هغه واقعيتونه دي چې هيڅوک ترينه سترګې نشي پټولای. که چيرته دغه حالت د تير په څير همداسې روان وي او پروخت يې مخه ونه نيول شي؛ نو بی له شکه ويلای شو چې افغانستان به نور هم له ډيرو سختو ستونزو او ناخوالو سره لاس اوګريوان شي او زموږ دښمنان به پخپلو شومو اغراضو کې برلاسي او خپلو اهدافوته ورسيږي. که چيرته د ملي يووالي حکومت دخپل اولس او هيواد رښتوني خدمتګار او غم خوړونکي وي او اونه غواړي چې هيواد نور هم د فساد په ژور ډندکی ډوب شي؛ نو خپله ټوله پاملرنه دی دسرمايې او اقتدار د سهي استعمال په اړه متمرکزه کړي، هيچاته دی اجازه نه ورکوي چې له خپلې سرمايې او اقتدارنه ناوړه ګټه پورته کړي او هيواد دکړکيچ په لور روان کړي. په هيواد کې دننه چې کومې مافيايي کړی ددواړو په سر پرستی او تعاون د غلا، ډاکې، رشوت، سړي تښتونې، غصب او بې حيايي کارونه ترسره کوي د هغوی د جرړو د وچولو لپاره دی جدي ګامونه واخلي، ځکه چې دغه خطرناک مکروب د هيواد ګوټ ګوټ نا ارامه کړی د اولس باور له حکومت او قانون نه ختم شوی او همدا فکر کوي چې د اقتدار خاوندانو هم زموږ د ځرمن د ايستلو لپاره ملاتړلې او سرمايه دارو هم زموږ له غربت نه د ناوړی ګټې د ترلاسه کولو قسم خوړلې. فلهذا د ملي يووالي د حکومت مشرانو ته پکاردي چې د تير دولت د مصلحت پالنې پاليسی ته د ادامی پرځای له قاطعيت او جديت نه کارواخلي، ددی پرځای چې د هيواد سرمايه د څو محدودو کسانو په لاسو کی تاو راتاوشي او غريب هيوادوال نور هم د غربت کندی ته ولويږی او تل د مافيايي کړيو تراسارت لاندې ژوند تير کړي د حلالی لارې ابرومندانه رزق د ترلاسه کولو لارې ورته برابرې کړي. هغه تعليم يافته ځوانانو ته چې د کار اهليت لري په مناسبو دندو دګومارلو بندو بست وکړي؛ نه دا چې د فيل په غوږ کې ويده پاتې شي او د پخوا په څير هيوادوال د مظلوميت په ميچنه کې دل شي.

د ملي يووالي حکومت مشران دی دا واقعيت درک کړي چې د اولس ملاتړ ترلاسه کول او هغوی په ملي او بين المللي مسائلو کې په اعتماد کې اخستل د هيواد د هر اړخيز استحکام لپاره ضروري دي هغه اولس چې په هيواد کې له خپلو ټولو مادي او معنوي حقوقو څخه برخمن وي او خپل کرامت پکې خوندي ګڼي هغه د خپل هيواد هر اړخيزې دفاع لپاره دغره په څير کلک ودريږي او هيچاته اجازه نه ورکوي چې هيواد ته يې نقصان ورسوي؛ خو که الله مکړه هيواد د څو مافيايي ډلو ترمنځ ويشل شوی وي او حکومت هم له خپل اقتدارنه ناوړه ګټه اوچتوي او د اولس د حقوقو ددفاع او تحفظ فکر نه کوي او اولس د مافيايې کړيو او زورواکانو د ظلم په ميچنه کې دل کيږي او دغلامانو په څير د ذلت ژوند تيروي، بيا نو داسې اولس د مايوسی له کبله سربداله کيږي او دخپل هيواد ددفاع ولوله او جذبه له لاسه ورکوي؛ نشي کولای د پرديو په مقابل کې په پښېړ اتفاق او سپنيز ديوال ودوري او د هغوی توطيې شنډې کړي. ښــه به دا وي چې د ملي يووالي مشران د هيواد نازک حالات درک کړي او د ټولو هغو نيمګړتياو د مخنيوي لپاره لاس په کارشي چې د هيواد بنيادونه کمزورې کوي. په اوسنيو شرائطو کې تر ټولو مهمه داده چې د هيواد د اصــل قوت پرځای کولو سره د اســتحکام او پرمختګ په لور مزبوت ګامونه واخلي؛ که نه نو وخت په تيزی سره له لاسه په وتودی، که لدی موجوده مساعد وخت نه ګټه وانخستل شي او د تير په څير مصــلحتي حکــومتولی ته ادامه ورکړای شي؛ نو ليری نه ده چې هرڅه به مو له لاسه ورکړې وي. بيا به نه دا مســاعد وخت په لاس راځي او نه اقتدار چې خپلــې تيروتنې جبران کړو، يواځې ارمان به وي چې له اسويلو پرته به نور هيڅ ګټه ونلري.

فروغگر

لیکه: خو مه وایه چې څول یې نه مني!

فکر، اندیښنه، دکایناتو او چاپېریال په اړه غور او د تصور ژوروته تلل د انسان غـریـزي احساس دی؛ خومره چې په دې اړه معلومات پنډیږي، هومره نورهم ذهن تخنوی چې ارام نه وي؛ بلکې هڅه دې وکړي چې دپېچلـو مسایلو دحل لپاره یوه لاره پرانیزي؛ که څه هم فیلسوفانو، دغو هڅو، پلټنو او ددې پلټنو پایلې ته فلسفه وایي؛ خو اوس له فلسفی مخکـې دلته هم دعیني مقولاتو غلبه ده؛ څکه انسان له خپل چاپیریال نه الهام اخلي او دچاپیریال له عیني او بیا ذهني شرایطو سره سم د پدیـدو دپلټنې، چاڼ او حل لپاره د فکر ژورو ته ځي. کله کله د ټولنې، کایناتو او هغې نړۍ چې موږ په کې ژوند کوو، رامنځ ته شوي پېښې،منطقي تسلسل پیدا کوي چې دغه تسلسل هم دانسان دماغ، البته پرهغه مهال چې د پېښو پـه اړه فکر کوي ښه پنځولای شي.

عجیبه داده چې په خورا تاوجنو او کړکیچنو حالاتو کې هم، هلته چې د ځینو دماغ ښایي کار پرېږدي او یا دحیرت په مقام کې توقف وکړي: مگر خو را حساس انسانان په هماغو کړکیچنو شرایطو کې هم، د وضعیت بیلې څنې یودبل په څنگ کې ږدي او د علت او معلول په لړ کې ددغو پیښو دزیږدن دگرته ځان وباسي او هڅه کوي چې خپلې ټولنې ته او بیا په ټولنه کې خپلو وگړوته د حل لارې چارې په گوته کړي.

د انسان په دغه فکري الوت، غورځو، پرځو او پیچو موکې دلیکوالی شیدې تومنه کیږي: کله ډیر یوازې شي او په دغه تجردکې همدغه پېښې لکه څنگه چې ایجاد شوي خپل موجود نسل او راتلونکو نسلونوته داسې وړاندې کوي چې زیاتی، کمی، تمایل اورحجان په کې نه وي او پاتکی په پاتکی دحوادثو عکاسي په کې شوی وي چې دی ته بیا تاریخ وایي او که له تیر تاریخ سره پرتله شي او دلیکوال نظر پری غالب شي، نو د تاریخ فلسفه ترې جوړیږي.

په همدغه فکري ماحول کې بیا همدغو لیکنوته چې دورځنې بهیرونو او تاریخي لوړو ژورو په مهال یې دا پېښې تل او لمن لیکونو او خواشیوکې ځای، ځای دمه شوی وي او د پېښو پر پنځوونکویې کره کتنه کړی وي، بیا دلیکوال دغې لیکنې د خپل مهال لیکنې، مقالی، مضامین او تبصرې جوړې او لیکوال تر مورخ مخکې د سیاست اتلولی ته وړاندې کوي: کله چې د پخو لیکوالانوپه لیکنوکې ددغو لیکوالانو په باب قضاوتونه وگورې: نو بیا همدغه لیکنې د انقلابونو نوښتگر معرفي کوي، مثلاً وایي چې په هغه او دغه هیواد کې ددې اوهغه لیکوال لیکنې دې چې خورا پراخ او ژور انقلاب یې رامنځ ته کړ او...

کله ناکله پرلیکوال او شاعر داسې حـالات راځي چې نشي کولای، خپل مافی الضمیر په روښانو ټکو کې ټولنې ته وړاندې کړي؛ پـر اوضاع د مستبدو دیکتاتورانو حاکمیت چلیږي، نو لیکوال او شاعر وضعې ته په کتو، دلیکنـې هغه محیط ته مخه کوي چې هلته پـیـښـې، واقعیتونه او دټولنې دحاکمې بوږی پـه اړه زغردې خبرې نشي کیدلای، نو دلته ده چـې ترخه خندا شروع شي هغه خندا چې شاته یې بلاغمیزې، نا دودې او ظلمونه پراته وي، او لیکوال هم د قلم په ژبه دا چمونه کوي، چـې دغو چمونوته «طنز» وایي.

په ادبیاتو کې هم کټ مټ همدغه عنوانونه او دلیکنې ډولونه، شعرونه، ادبي ټوټې او نورشته خو له نورو لیکنویې فرق دادی چې په ادبي لیکنو کې خیال انځور، الهام، دکلام ښایست او سینگار، دقیق نظم او ښکلا په جدي توگه په نظر کې نیول کیږي.

نور به مخکې نه ځو، دلته زموږ مطلب دادی چې دلیکوالی اوشاعري هدف دټولنې ویښتابه، تنبیه، پوهول او تنظیم دی، کله کله داسې شرایط رامنځ ته کیږي چې لیکوال ته سوالونه پیدا کیږي او شاعرخپله لاره ورکوي، دڅه لپاره؟

ددې لپاره چې دوی نه لوستونکې لري او نه اوریدونکې او که یې لري عمل پرې نه کوي، ددغې کړنې په غبرگون کې زموږ د قلم خاوندان نا امیده کیږي چې یاره نور خو بس دی، کله چې ټولنه زموږ خبرې نه اوري او یایې نه لولي، نو بیا ددغومره هڅو څه گټه؟!

خو په دې کې هم لیکوال او هم شاعر تیروتنی وي؛ حالات داسې وي چې نور وگړي یې هم د هضمولو توان نه لري؛ نو چې دلیکوال، شاعر، خطیب سیاستوال او واعظ خبرې هم، د ځان دخوندي کولو لپاره په نیفه نشي منلی؛ بلکې په عامه اصطلاح په زړه کې یې اچوي، او څوک چې یوه خبره کې زړه کې اچوي، نو سبا ورځوته گوری، همدا چې شرایط ورته مساعد شول، له میدان نه یې وباسي او یا ورځه همداسې به یې وگنو چې غبرگون عام نشو، دغو لیکنو ونشو کولی ټولنه د ناخوالو په وړاندې غبرگون ته وهڅوي، دا خو حتمي ده چې په فردي او اجتماعي روزنه کې هرې خواته غزونې کوي او د خلکو په ذاتي اصلاح کې رغنده رول لوبولی شي.

زما مطلب دادی چې شاعر او لیکوال ته هیڅ کله هم یاس او ناامیدی نه دی په کار او بیا الحمدلله موږ مسلمانان یو، په دې پوهیږو چې الله جل جلاله د هرې نیکی په بدله لس اجرونه ورکوي، موږ به نیکي له خلکو سره کوو: مگر اجر به یې له خدایه غواړو.

خدای جل جلاله به زموږ فردی او اجتماعي ستونزې خپل رحم اوکرم سره جوړوي، خو موږ ته نه دي په کار چې د بلنې لاره پریږدو.

الحاج سارنوال صبغت الله هوتک

جایگاه زن در اسلام

اسلام به اعتدال و میانه روی بنیان نهاده شده است بناء زن همسان و همدوش مرد به زنده گی خود ادامه میدهد قرآن نه به تفریط فرهنگ های گذشته دل میبندد و نه هم راه افراط امروزی را در پیش میگیرد بلکه نگاه قرآن به زن همچو دیگر موجودات نگاه میانه رومبتنی بر اعتدال بوده است . در نگاه اسلام زن و موجودی است که در عالم فطری و تکوینی یا به عبارت دیگر در اصل انسانیت خود برابربامرد است :ولی‌در هنگام قانون گزاری و عهده دار شدن مسؤولیت متفاوت از مرد یکی از ظرافت های خاص زن میباشد.

ملاحظهٔ عمده یی که بر اندیشه های جنبش های زنان وارد است این است که آنها تساوی و تشابه را از یک طرف و تفاوت و تبعیض‌رااز سوی دیگر اشتباه گرفته اند آنها بدون توجه به تفاوت های طبیعی موجود خواستار برابری و به عبارت بهتر خواهان یکسانی وجود زن و مرد شده اند.

یعنی میخواهندکه زن مرد باشد و مرد زن و این خود ظلم بزرگ است درحق زنان. البته نگرش های افراطی جدید در مورد زن را میتوان معلول عملکرد فرهنگ های قدیمی دانست متأسفانه علل عدم آگاهی کامل از کلام خداوند (ج) یا آیات الهی و تفسیر، سلیقهٔ شخصی از آموزه های دینی از جهت تمایلات و خواست های شخصی را به آموزه های قرآنی نسبت داده اند ولی با دقت و تحلیل اندیشمندانه در آیات الهی به این نتیجه خواهیم رسید که این روند هیچ ارتباط به دین و آموزه های آن نداشته بلکه دین و قرآن خود برای نجات زن سخن های زیادی دارد در این راستا پیامبر اسلام (ص) رنج و زحمت های زیادی را متحمل گردیده اند. حال با توجه به این جایگاه قرآنی زن درچند محور بحث را ادامه میدهیم: زن در فرهنگ اسلام موجودی است آرام بخش که از جنس مرد است و این دوتا از یک جنس آفریده شده اند. ازین نگاه هیچ گونه تفاوت بین مرد و زن وجود ندارد. و میتواند پله های کمال سعادت را درکنار همدیگر بپیمایند. ترجمه: خدای تان همه شما را از نفس واحد خلق کرده و از همان نفس زوج او را خلق نمود. در تعلیمات اسلامی (زن لباس مرد است و مرد لباس زن) این آیات قرآنی به دو مطلب هم اشاره مینماید از یک طرف همان طوری که بین لباس و انسان فاصله وجود ندارد، بین مرد و زن هیچ گونه جدایی تصور نمی شود. بین لباس و انسان که وظیفه در نگهداری انسان در سرما و گرما میباشد بیان کننده عمق ارتباط و پیوند بین زن و مرد میباشد. در اسلام زن و مرد مکمل و متمم یکدیگر میباشند که وسیله آرامش و آسایش همدیگر را فراهم میکنند و این از آنجا نشأت میگیرد که پیوند بین آن‌دوبرمسایل حجت و دوستی برقرار میگردد. درنظر قرآن همان طور که زن از نظر روحی اتکابه‌مرددارد ،درهر شرایط خودش را نیازمند به مرد میداند. مرد نیز در برابر زن چنین است همواره به او محبت و نیاز دارد. دراسلام نفقه‌وخرج‌زن‌به‌عهده مرد گذاشته شده است البته این مسئله‌نه‌از روی وابستگی زن یا به علتی که مرد مالک زن است در اجتماع به اشکال مختلف اشاره و با آن حق داده که با بهره گیری از توان اقتصادی، علمی و مهارت های مدیریتی خود بتواند درجهت رساندن جامعه به کمال سعادت و کوشش به خرج دهد. آیات قرآن کریم چنین هدایت ارایه نموده اند.

ترجمه : با زنها معاشرت نیک داشته باشید و آنها را در اجتماع خود راه دهید که در این کار ممکن است خیر فراوان باشد که شما ندانید.

قرآن کریم نقش زن را در اجتماع نیز بیان میدارد، در اجتماع سرنوشت جامعه را عوض می کند، مریم مادر عیسی و آسیه زن فرعون از این دسته زنها میباشند که موقعیت آنچنان بلندی پیدا میکنند.

در اسلام زن و مرد مالک مال خود بوده هیچ کس حق ندارد مال دیگری را تصاحب کند و به صراحت اعلام میدارد.

با توجه به راه حـل حق تصرف در مال و ملک به نقش زن در کمک کردن به مشکل فقر اشاره دارد.

نیاز عاجل به مذاکرات ...

(ادامه از صفحه اول)

... خون بیش از دو میلیون هموطن ما را ریختاندند عده یی از آنها که از داشتن وجدان عاری اند هنوز هم درین رسانه و ان رسانه می نیشنند و سعی میکنند جنایات خود را یا بپوشانند ویاهم آنرا توجیه جاهلانه کنند. بقدرت رسیدن کمونستها به اقتدار و زمینه سازی برای آمدن لشکر وحشی روس به افغانستان کشور ما را چنان بی ثبات ساخت که از هرسو دستها بسوی افغانستان دراز شد؛ زیرا افغانستان دیگر به یک کشور بی در و دروازه مبدل شده بود و هرکس تلاش کرد ازین آب گل آلود ماهی بگیرد. از همسایه ها گرفته تا کشور های فرا منطقه و بالاخره کشور های بزرگ همه در تلاش بر آمدند تا اهداف نا مقدس استعماری خود در افغانستان را بر آورده سازند.

امروز افغانستان به مرکز حضور فعال استخبارات بیرونی مبدل شده است و قطع کردن این دستها، فضل خداوند میخواهد و بیداری و هوشیاری ملت. در سالیان دراز گذشته امتحان کردیم که از راه جنگ نمیشود به بحران حاکم در افغانستان پایان داد؛ زیرا امروز اگر یک شوروی در افغانستان شکست خورد و سر افگنده از خاک ما بیرون شد، امریکا و ناتو جای آنرا گرفت، جنگ درکشور ما ادامه دارد و هر روز شاهد یک یا چندحادثهٔ خونبار درگوشه یی از کشور خود هستیم، درحالی که کشور های مغرض سعی دارند این جنگ ادامه پیدا کند و به آتش جنگ پترول می پاشند تا اتش جنگ هرچه بیشتر زبانه بکشد؛ بناءً اگر ما منتظر آن باشیم که دیگران برای ما صلح بیاورند خیال و محال و جنونی بیش نخواهد بود، فلهذا آوردن صلح به هرحال مربوط به خود افغانها میشود. اگر ملت افغان در مجموع صاحب یک شعور سیاسی شده باشد، باید دیگر گذشته را صلوة بگوید و تمام گروهها بیایند و برسریک گلیم بنشینند و به این توافق برسند که نظامی بسازند مطابق آرمان ملت مجاهد ما که تمام گروههای درگیری در آن حضور داشته باشند.

متأسفانه در مورد صلح خیلی قضاوتهای غیرعادلانه و غیر واقعبینانه بر مبنای تعصبات قومی و زبانی نیز صورت میگیرد. اگر آنانی که به نحوی با صلح بامخالفین مخالفت میورزند به پیش داور تاریخ بنشینند به آنها هم سند برائت نخواهد داد. آنچه آنها از آن دلهره دارند قابل درک است، اما باید تمام گروههای درگیر متوجه باشند که:

۱- جنگ آنچنان که بار ها آزموده شده راه حل بحران موجود افغانستان نیست؛ بلکه جنگ میتواند این کشور را بیش از پیش ویران کند و ملت مظلوم افغانستان را بیش از پیش آواره، فقیر و بیچاره سازد.

۲- صلح با دشمن، مخالف و یا هر نام دیگری که برای آن انتخاب شود، صورت میگیرد؛ نه با دوست. اگر به مخالف نام مخالف سیاسی داده شود نباید برآشفت، همین مخالف را که هرنام بدهند نیاز است تا با آن بمذاکره نشست و یک راه صلح و آشتی با آن را پالید. ما امروز در دولت با کمونستهایی یکجا نشسته ایم که چهارده سال دربرابر آنهاجهاد مسلحانه کرده ایم: شهید داده ایم، مهاجر و بی خانمان شده ایم و بلکه امروز افرادی از حزب دموکراتیک خلق در کابینه حضور دارند، هکذا در ارگانهای امنیتی ما از وزارت دفاع گرفته تا داخله و امنیت ملی حضور فعال دارند وهنوز هم لحظه شماری میکنندکه چگونه بتوانند از مسلمانها یا بهترتر بگوییم مجاهدین انتقام بکشند؛ زیرا آنها تا هنوز درد سقوط نظام کمونستی خود را فراموش نکرده اند و راست گفته اند که درد هر چیز میرود و درد شکم نمیرود.

بناءً تمام گروههای سیاسی کشور نیاز دارند تا برگذشتهٔ خود نظری بیفگنند و در جایی که اشتباه کرده اند عذر تقصیر از خداوند بخواهند و اصرار نکنند تا اشتباهات خود را باز هم تکرار کنند و بر آن قایم بمانند.

امروز امریکا و ناتو به کشورما آمده اند، اینکه چرا آمده اند و چگونه آمده اند، کیها در آمدن شان کمک کرد وکیها هستند که هنوز به دور آنها طواف میکنند و منافع خود را که آن هم معلوم نیست به آن برسند و یا نرسند درحضور امریکاو ناتو می بینند، به همگان معلوم است. امروز اسناد و شواهد زیادی حتی به شکل کتابها به بازار عرضه شده و جریانات و حقایق و واقعیتهای پشت پرده را در آن بازگو کرده اند، بناءً هیچکس سعی نکند تا کاستیهای خود را یا بپوشاند و یا آنرا به غلط توجیه کنند، سهو، سهو است، جرم، جرم است، باید سهو و اشتباه خواه ازهرکس سرزده باشد آنرا بپذیرد و بر دوام آن اصرار نورزد. بناءً آوردن امریکا به کشور و کمک در راه آوردن آن یک اشتباه بود و هرکه این اشتباه را مرتکب شده باشد، باید بپذیرد که اشتباه کرده است. ما مخالف حضور هرقوت و قدرت بیرونی درکشور خود هستیم خواه نام آنرا اتحاد شوروی بگذارند، خواه امریکاو خواه کشور های همسایه، منطقه وفرا منطقه؛ ولی ما مطلقاً مخالف حضور بیگانگان درکشور هستیم ؛ زیرا ماهروز بهای این حضور را بقیمت خون خود می پردازیم، و همین حضور بیگانه به یک بهانهٔ تداوم جنگ مبدل شده است. آنان که زیر چتر حضور امریکا بسر میبرند به این حضور توجیهات نادرست و غیر اسلامی ارائه میکنند بخاطری که نمیتوانند به امریکا و ناتو بگویند از خاک بیرون شوید، و یکعده حضور این نیروها را برای تداوم جنگ بهانه میآورند، ولی آنان که این حضور را بهانه میآورند، دیروز که این نیروها درکشور ما نبودند چرا میجنگیدند؟ در آن زمان چه توجیه شرعی وجود داشت؟ اگر امام را نمی پسندیدند باید مسجد را ویران نمیکردند که کردند و بالاخره خود هم با همان سرنوشت مواجه شدند، فلهذا امروز نیاز است؛ هم نیاز اسلامی، هم انسانی و هم ملی، تا تمام اطراف درگیر سلاح خود را یکسو بگذارند و بیایند به مذاکرات صلح بنشینند و به مشوره بپردازند که چگونه میشود ازین منجلابی که در آن گیر مانده ایم برآییم و کشور و ملت را دیگر ازین تهلکه نجات بدهیم.

درین روزها سر و صداست که مخالفین مسلح و دولت آماده شده اند که مذاکرات صلح را آغاز کنند و رسانه ها اخبار کردند که در هفتهٔ آینده یک هیأت مخالفین غرض مذاکره بکابل خواهد آمد که اگر چنین شود ما آنرا بفال نیک میگیریم. مذاکره به معنای آن نیست که یک جناح حتماً متقاعد شود تا شرایط جانب مقابل را بپذیرد، بلکه مذاکره برای آن است تا معقولیت ومشروعیت خواسته ها تثبیت شود، کدام خواست مشروعیت و معقولیت خود را داردوبایدپذیرفته شود و باز نحوهٔ پذیرفتن تثبیت شود، زیرا باوجود پذیرفتن یک شرط نحوهٔ تعمیل آن قابل سؤال است، بناءً امیدوارهستیم از گذشته آموخته باشیم، از معلم تاریخ آموخته باشیم و دیگر باید به این نتیجه رسیده باشیم که: چه باید کرد؟

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سیاسي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
د هیات تحریر تر څارنې لاندې
د دفتر شمیره: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت پر وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته زیان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مسترديږي.
• یوازې سرلیکنه د شهادت اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

نهضت اسلامی و کفرشکن در افغانستان، ...

... به شهادت رسید. اکنون با این اندیشه و طرز تفکر، جوانان این ولایت که خود را وارثین برحق و علم برداران راه اسلام و راه داکتر محمد عمر شهید میدانند به هزار ها تن از ولسوالی های ۲۸ گانه این ولایت بپاخاسته، روشنائی بخش چراغ افروخته شده (۴۵) سال قبل شهید داکتر محمد عمر هستند، که با سعی وکوشش شباروزی و با فداکاری اسلامی خویش، نه گذاشتند که روشنائی چراغ افروخته شده فرزانه مردان تاریخ اسلام افغانستان عزیز مکدر و یا کم از کم خیره گردد.

متعاقباً یک تعداد از برادرهای حزبی درین ولایت هریک فضل احمد مسلم یار محصل پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل، نورالحق عارف، ذکرالدین ذهین و مولوی عبدالباعث عضو اجرائیه جوانان حزب اسلامی، ضمن قدردانی از کارهای دلسوزانه اسلامی و حزبی استاد مهان، پیشنهادات و مشکلات خود ها را جهت بهبود امور حزبی در این ولایت به رییس حزب اسلامی افغانستان پیشکش کردند.

به همین اساس برادرمحترم عبدالهادی ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان خطاب به اعضای حزب اسلامی ولایت بدخشان مقیم کابل افزودند:

برادرها و جوانان عزیز!

مشاهده این کمیت از برادر های ولایت بدخشان مقیم کابل مایه سرور و خوشحالی من است و یک بار دیگر انسان را امیدوار به آینده اسلامی افغانستان می سازد. بدون شک هرفکر و آرمان وقتی موفقانه جامه عمل می پوشد که ایمان به آن تقویت یابد و بخاطر تحقق آن، اخلاص، صداقت، تعهد و شوق لازم موجود باشد، که بدون شک و تردید و مبالغه چنین ویژه گی هاو نورمهاو کوشش ها اخلاص و صداقت در وجود استاد عبدالقدیر مهان محسوس میباشد که ثمره کار و تلاشش تنظیم و دعوت هزاران تن از جوانان مسلمان و بادرک و مبارزه در ولایت باستانی بدخشان و شمال کشور است که امریست قابل قدر و تمجید.

برادر محترم عبدالهادی ارغندیوال خطاب به جوانان بدخشان گفتند: دین مقدس و سعادت آفرین اسلام، از همان صبحگاهان طلوع خورشید جهان افزود، آنچنان راد مردان بزرگ و قهرمانان تاریخ سازی مسلمان را تقدیم جامعه بشری کرده که بزرگترین دانشمندان، نوابغ و علما از توصیف کارنامه ها و ابعاد زنده گی آنان عاجز آمده اند بدون شک داکتر محمد عمر شهید از ولایت بدخشان، انجنیر حبیب الرحمن شهید، نصرت یار شهید و غیره برادرهای جان باخته در راه اسلام از جمله مؤسسین و بنیانگذاران نهضت جوانان مسلمان افغانستان از همان رادمردان مسلمان تاریخ سازیست که با بنیانگذاری بزرگترین جنبش اسلامی درکشور نام شان در صفحات نخست تاریخ زرین افغانستان با کلمات درشت و طلایی رقم خوردند و با رنجاندن خون پاک شان در راه اقامهٔ دین خدا (ج) نهال نوپای بازگشت به اسلام اصیل و کامل در حیات تازه بخشیدند.

نهضت اسلامی و کفر شکن در افغانستان، در دشوارترین مراحل حیات معاصر اسلامی قد برافراشت و بیرق و درفش شکوهمند جهاد و مبارزه علیه کفر، استکبار، استعمار، کمونیزم و مظاهر کثیف آنرا مردانه بدوش کشیدند. ابتلاءات و آزمایشهای راه جهاد و مبارزه بخصوص شکنجه ها و اعدام های اعضای نخبهٔ نهضت جوانان مسلمان از طرف رژیم های دست نشانده و مزدور کمونیزم در افغانستان نه تنها کوچکترین خللی در ایمان و همت عالی آنان وارد نکرد؛ بلکه عزم شان را در بر اندازی حکومت های طاغوتی، مزدور و دست نشانده پخته تر ساخت و سبب آبدیده تر شدن آنان در کورهٔ جهاد و مبارزه در راه اسلام گردید و باعث انتشار وسیع و همه جانبه دعوت اسلامی در میان اقشار مختلف توده های مسلمان بخصوص جوانان درسراسر کشورعزیزما افغانستان گردید، که نمونه و مثال آن را اکنون با این تعداد و کیفیت از ولایت بدخشان که فکر میشود که از هر قطره خون پاک داکتر محمد عمر شهید در این دیار و خطه هزاران جوان و نو نهال با این فکر و اندیشه روئیده و جوانه زده است بدون شک این نونهالان برای همیش علم برداران راه توحید و مبارزه در افغانستان خواهد بود.

از اینرو جوانان چه درگذشته و چه در حال حاضر حیثیت ستون بنیادی جنبش ها را درکشور های شان داشته و رمز قوت و نیرومندی این نهضت ها و حرکت ها به شمار می روند؛ و این جوانان اند که همیشه درفش هر اندیشه و فکر را بدوش کشیده اند. از این سبب وجایب شما جوانان در شرایط کنونی زیاد بوده و مسؤولیت های تان خیلی بزرگ و سنگین است و بار امانت الهی بردوش تان گذاشته شده است. بنابر آن بر شماست تا عمیقاً تفکر نموده وزیادعمل کنید.

مجلس با دعای خیر و فلاح و تأمین صلح وارامش سرتاسری درکشور پایان یافت.

کوریای شمالی امریکا را به "حملات بی امان" تهدید کرد

کوریای شمالی با آزمایش جدید راکتی هشدار داده است که "حملات بی امان" علیه ایالات متحده امریکا و کوریای جنوبی انجام خواهد داد.

امریکا و کوریای جنوبی یک مانور نظامی مشترک راه اندازی کرده اند.

به گزارش کوریای جنوبی، مقام‌های نظامی کشور همسایه‌اش کوریای شمالی روز دو شنبه (۱۱ حوت/ ۲ مارچ) دو راکت کوتاه برد را در ساحل شرقی این کشور شلیک کردند.

پیونگ یانگ در اعتراض به مانور نظامی مشترک کوریای جنوبی و ایالات متحده امریکا که برای روز دو شنبه برنامه ریزی شده است، هشدار داده است که "حملات بی امان" را انجام خواهد داد.

خبرگزاری "کی ان سی" کوریای شمالی به نقل از سخنگوی اردوی خلق کوریا گزارش داد که وضعیت در شبه جزیره کوریا به آستانه یک جنگ نزدیک می‌شود.

نظامیان کوریای شمالی افزوده اند که "تنها ابزار مقابله با این تهاجم و جنگ از سوی امریکای استعمارگر و پیروان‌اش نه گفتگو است و نه صلح، بلکه باید با حملات بی‌رحمانه به آن پاسخ داده شود."

پیونگ یانگ به تکرار ناخشنودی اش را از مانور نظامی مشترک کوریای جنوبی و ایالات متحده امریکا ابراز داشته است که بزرگ‌ترین آن یک تمرین هشت هفته‌ای به شمول نیروی هوایی، زمینی و کشتی‌های جنگی است. در این مانور حدود ۲۰۰ هزار سرباز کوریای جنوبی و ۳۷۰۰ سرباز امریکایی سهم می گیرند.

واشنگتن و سیول تاکید دارند که این مانور ماهیت دفاعی دارد، اما پیونگ یانگ هشدار داده است که حتی اگر یک گلوله بر قلمروش اصابت کند، به "اقدام متقابل" دست می‌زند.

کشور کمونیستی و مجهز با سلاح اتومی کوریای شمالی با وجود تحریم‌ها و هشدارهای بین المللی به توسعه موشک‌ها و راکت‌های بالستیک ادامه می‌دهد. کوریای جنوبی مدعی است که همسایه شمالی‌اش تکنولوژی موشکی قادر به حمله بر سیول را توسعه داده است، اما برنامه اتومی کوریای شمالی هنوز به عنوان یک سر پنهان مانده است.

عراق:
د تکریت بېرته نیولو لپاره پوځي عملیات پیل شوی

عراق په تکریت کې د اسلامي دولت ډلې خلاف عملیات پیل کړي دي. د عراقي ټلویزیون په رپوټ کې ویل شوي، چې د دغه هېواد پوځ د پخواني ولسمشر صدام حسین د زوکړې ښار تکریت د بېرته نیولو لپاره د اسلامي دولت یا داعش وسله والو خلاف پوځي عملیات پیل کړي دي.

له دې مخکې لومړي وزیر حیدرالعبادي صلاح الدین ایالت کې له پوځي قومندانانو سره ولیدل چې د برید لپاره دغه سیمه کې پوځیانو او ملېشه خواک چمتو والی کاوه.

تکریت د سني مېشتې سیمې له ښارونو یو دی، چې د داعش په واک کې دی.

د ځایي رسنیو رپوټونو کې ویل شوي، چې پوځیانو پر ښار داسې حال کې برید کړی، چې عراقي جنګي الوتکې یې ملاتړ کوي.

تکریت د پلازمېنې عراق په ۱۵۰ کیلومتری کې پروت دی، چې د ۲۰۱۴ کال په جون میاشت کې داعش وسله والو ونیو.

د العراقیه ټلویزیون رپوټ کې ویل شوي، چې داعش وسله وال د تکریت څنډو کې له یو شمېر سیمو وتلي خو دغه رپوټونه لا هم نه دي تایید شوي.

دپیښو پر خلاف دمبارزې دتیارې ...

په اشارې وویل بیړني اقدامات ترلاس لاندې نیول شوي دي او له بله پلوه هم د سر د زیانونو مخه هم نیول شوې ده. او دارونډو ارګانونو مسوولین دپیښو په ساحو کې دي او دهغو کسانو دژغورنې په خاطر چې دواورې په کلابندی او خطر کې دي هلې ځلې روانې دي او دکار په لومړیتوب کې ځای لري او پاخه خواړه او خوراکي توکي دغو ساحو ته لیږل شوي دي او په دې برخه کې کار په جدي توګه دوام لري.

داجرائیه رئیس دځرګندونو له مخې، دسالنګ لویه لاره هم پرانستل شوې ده او دترافیکو بهیر په عادي توګه دوام لري او هیله ده چې دبرېښنا ستونزه هم دبرېښنا شرکت دمسوولینو په اقداماتوسره په ډېر لنډ ممکن وخت کې حل شي.

د خواخوږی او ډاډګیرنی ...

ددې ترڅنګ انجنیر محمدخان د هېواد له تجارانو، پانګوالو او مرستندویو ادارو څخه هم هیله کوي چې د حکومت د مرستو برسیره په پیښه کې د زیانمن شویو کورنیو سره په پوره سخاوت مرسته وکړي. او د هغوی د دردونو پر ټپونو د مرهم پټی کېږدي.

نواز شریف د افغان سولې لپاره...

هېوادونو مشرانو د یو بل هېواد ته ډېر سفرونه درلودل.

د پاکستان د پوځ مشر جنرال راحیل شریف تر اوسه څو ځله افغانستان ته سفر درلود او له افغان ولسمشر اشرف غني سره یې په افغانستان، پاکستان او سیمه کې د ترهګرۍ او سخت دریځی پر وړاندې د دواړو هېوادونو د ګډې مبارزې د پیاړوي کولو په باب خبرې کړې وې.

لومړي وزیر نواز شریف په اسلام اباد کې د افغانستان له سفیر جانان موسی زي سره د لیدو پر وت وویل غواړي افغانستان کې د سولې خبرې نورې هم ګړندی شي او هیله لري چې دا خبرې د کامیابی پر لور روانې شي.

افغان سفیر د سولې په اړوند د ښاغلي نواز شریف له هڅو منته وکړه.

ویل کېږي چې ښاغلیو شریف او موسی زي د افغان تجارت په اړه هم خبرې کړې دي.

د افغان سفیر سره په خبرو کې د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف وویل افغانستان کې د نوي حکومت له راتګ سره د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې ښې شوې دي.

جانان موسی زي د پاکستان له حکومت څخه د واورې ښوېدو له قربانیانو سره له مرستې مننه وکړه.

تېره اوونۍ په افغانستان کې د واورې ښویېدو له کبله شاوخوا ۲۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.

ښاغلی نواز شریف وایي له خپل همسایه ورور ملک سره په هر غم کې ځان شریک بولي. او په افغانستان کې د واورې ښویېدو له کبله د وژل شویو کسانو او زیانمن شویو سره د زړه له کومې خواشیني ښکاره کوي.

ده له افغانستان سره د نورو مرستو ژمنه هم وکړه.

د کابل د ټولو امنیتي حوزو ...

کمیسیون د هغوی د تجربې، له فساد څخه د پاکوالي او د هغوی د لاس ته راوړنو له ارزولو وروسته په دندو ګمارلي دي.

کابل په ۲۰۱۴ کال کې د ډېرو ناامنیو شاهد ؤ چې کابل ښاریان د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د ځنډېدلو ترڅنګ، بریدونو او تښتونو اندېښمن کړي ول.

لوی پاسوال رحیمي تر دې وړاندې د بلخ ولایت د امنیې قومندان ؤ چې د نوی وزیر له ټاکل کېدو وړاندې یې د کابل د امنیې د قومندان په توګه په کار پیل وکړ.

دا چې د امنیتي حوزو دغه آمرین، آیا په خپلو کارونو کې د پاتې راتلو لپاره ګوښه شوي، لوی پاسوال رحیمي یې ردوي او په کابل کې د تېرو څو میاشتو په امنیتي پرمختګونو کې د دوی ونډه ستایي.

لېرې کړل شوي د حوزې آمرین په نوو دندو نه دي ګمارل شوي خو د چارواکو په وینا د کورنیو چارو وزارت به د دوی پر ټاکنو کار وکړي.